شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۸ ګڼه / یکشنبه د محرم‌الحرام ۱۸مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۱۴مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۵مه ۲۰۲۶ میلادي

ایران کې د ښاغلي برادر په مشرۍ د افغان پلاوي رسمي هرکلی وشو

د ایران د کرنې وزیر او د افغانستان–ایران د ګډې اقتصادي همکارۍ د کمېسیون ایراني مشر غلام‌رضا نوري قزلجه د افغانستان د اسلامي امارت د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د افغان لوړپوړي پلاوي هرکلی کړی دی. یاد افغان پلاوی چې د اسلامي امارت د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ ایران ته تللی، د ایران د پخواني مذهبي مشر د جنازې او وروستي درناوي په مراسمو کې د ګډون په موخه یې دغه هېواد ته سفر کړی دی. د ایراني لوري د معلوماتو له مخې، د افغانستان او ایران د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا او همغږۍ په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډې همکارۍ د پیاوړتیا په اړه هم خبرې شوې دي. د مراسمو په ترڅ کې ایراني چارواکو د افغان پلاوي حضور مهم بللی او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د دوام او پراختیا یوه نښه ګڼلې ده. بل لور ته، د افغان پلاوي مشرانو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر لا پیاوړتیا، د متقابل درناوي پر بنسټ د همکاریو د پراختیا او د اقتصادي اړیکو د ښه والي پر اړتیا ټینګار کړی دی. یاد سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د روانو اړیکو په چوکاټ کې ترسره شوی او تمه کېږي چې د راتلونکو همکاریو د پراختیا لپاره زمینه لا برابره کړي.

تهران کې د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د اقتصادي همکارۍ پر پراختیا خبرې وشوې

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي تهران کې د بنګله‌دېش جمهوریت د پارلمان له رئیس ښاغلي حافظ الدین احمد سره کتلي. په دې لیدنه کې د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا، په ځانګړې توګه د سوداګریزو اړیکو د ودې په اړه خبرې وشوې. د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ ظرفیتونه د پام وړ وبلل او ټینګار یې وکړ، چې دغه فرصتونه د دواړو هېوادونو د اقتصادي ودې لپاره وکارول شي. د بنګله‌دېش د پارلمان رئیس د دواړو هېوادونو اړیکې پخوانۍ وبللې او د افغانستان له اقتصادي بیارغونې سره یې د سوداګریزو اړیکو غوړېدل د دواړو لوریو لپاره ښه فرصت وباله.

له کندهار څخه تېر کال د ۴۲۸ میلیونو ډالرو په ارزښت مېوه صادره شوې

د کندهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د تېر ۱۴۴۷ کال په اوږدو کې له دغه ولایت څخه ۱۸۲ زره ۳۸۱ ټنه وچه او تازه مېوه د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته صادره شوې ده.

کال د صادرې شوې مېوې ټولیز ارزښت ۴۲۸ میلیونه او ۸۶۳ زره امریکايي ډالره کېږي. د افغانستان مېوې چې له ځانګړي خوند او ښه کیفیت څخه برخمنې دي، په دې وروستیو کلونو کې یې د صادراتو کچه په زیاتېدو ده او دا مهال د عوایدو له مهمو سرچینو څخه بلل کېږي.

سرچینې زیاته کړې، چې د تېر

پنجشېر کې د طبي بوټو د پلورلو نوی قرارداد لاسلیک شو

د پنجشېر ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو ویلي چې د دغه ولایت د څلور ډوله طبي بوټو د پلور ترون د ازادي داوطلبۍ له لارې له یوه خصوصي سکټور سره د ۹۸۱ زره ۷۴۰ افغانیو په ارزښت لاسلیک شو. د یاد ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د رئیس قاري فضل الله دیوبند په وینا «پنج‌انګشت، شیره کمال، لروک او خینه‌کاه» هغه بوټي دي، چې قراردادي شرکت یې د راټولولو او پلور چارې پر مخ وړي. سیمه ییزو مسئولینو ویلي چې شتل، رخه، عنابه، حصه اول او پریان هغه ولسوالۍ دي چې پکې دا ډول بوټي زیات موندل کېږي. د دوی په وینا، اوسمهال په یاد ولایت کې ۳۹ ډوله طبي بوټي پېژندل شوي، چې د راټولولو او پلورلو چارې یې په قانوني ډول ترسره کېږي.

چهار قضیه خشونت خانوادگی حل شد

مسئولان محلی وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات می‌گویند که به شکایات چهار زن در ولایت‌های خوست و میدان‌وردک که پیشتر با خشونت خانوادگی مواجه بودند، رسیدگی شده‌است. دفتر مطبوعاتی این وزارت با نشر این خبر گفته است که پس از دریافت شکایات و انجام بررسی‌های لازم، منسوبین مربوط با هماهنگی نهادهای ذیربط اقدامات لازم برای حل موضوع و تأمین حقوق شرعی این زنان را روی دست گرفته‌اند. به گفته مسئولان، در نتیجه این ... ص۳

د صنعت او کانونو ننداړتون کې د ننګرهار تولیدات نندارې ته وړاندې شول

د صنعت او کانونو د پنځم ملي ننداړتون په درېیمه ورځ د ننګرهار وادي کرنیز شرکت د زیتونو تولیدات او د نجارۍ لرګین توکي نندارې ته وړاندې شوي دي. د یاد ریاست په وینا، په دې ملي او نړیوال ننداړتون کې ټولې ۳۶۵ غرفې د هېواد د بېلابېلو اقتصادي او صنعتي سکټورونو کورني تولیدات او صنعتي محصولات نندارې ته وړاندې کوي ... ۳مخ

د پاکستان له نامه

سره د ګاونډي کلمه مه کاروئ

۲مخ

په ماشین‌خانه کې فرهنګي او نشراتي ښارګوټی جوړېږي

شریعت: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرکال پلان لري، په ماشین‌خانه کې چې ودانۍ یې فرهنګي ارزښت هم لري، فرهنګي او نشراتي ښارګوټی جوړ کړي. د دغه ښارګوټي د جوړولو مسئولین وايي چې دا ښارګوټی به د هېواد په کچه یوازینۍ لوی فرهنګي او نشراتي ادرس وي، چې د هېواد لاسي صنایع، افغاني تولیدات، مطبعې او لیکلي اثار او اړوند فعالیتونه به پکې ترسره کېږي. فرهنګي شنونکي بیا وايي، چې په دې سره به ... ۳مخ

سرمقاله

د وخت په هنداره کې د مسئولینو نیت او کړنې!

د نظامونو د مسئولینو نیت او کړنې د وخت په لوړو ژورو کې د ارزونې او څېړنې وړ وي؛ ځکه ډېری وخت د ملتونو د غولولو او خوشحالولو لپاره د واکمنانو ویندویان او تبلیغاتي کسان د خدمت کولو په نامه ښکلې او زړه راښکونکې ژمنې کوي، خو دا چې دغه ژمنې تر شا څومره له ښه نیت او رښتینولۍ څخه برخمنې وي او یا د فرېب او دروغو په پرده کې نغښتې وي، هغه څه دي چې وروسته څرګندېږي.

د دغسې مکر، فرېب او ناوړه استفادې زمینه معمولاً په هغو ټولنو کې ډېره برابره وي چې له بحرانونو او جګړو سره مخ وي.

زموږ په هېواد کې تېرو څه باندې څلوېښتو کلونو جګړو او کړکېچونو داسې شرایط رامنځته کړي وو چې یو شمېر د پردیو له خوا ګومارل شویو واکمنانو ته یې د دروغو او فرېب زمینه برابره کړې وه. دوی به خلکو ته د دروغجنو ژمنو په ورکولو سره دوکه ورکوله. په خبرو او ویناوو کې به یې د خدمت شعارونه ورکول، خو په عمل او نیت کې یې د هېوادپالنې او ولس ته د خدمت کومه نښه نه تر سترګو کېده. یقیناً زموږ هېوادوال به له دې خبرې سره موافق وي؛ ځکه ټول د دې واقعیت شاهدان او ګواهان دي.

د یادونې وړ ده چې په تېرو شلو کلونو کې د هېواد او ولس د خدمت له پامه غورځول هغه مهال وشول چې د مرستندویو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو مرستې په پراخه کچه افغانستان ته راتلې، خو د دغو مرستو ډېره برخه د واکمنانو شخصي حسابونو ته ولاړه او په بهرنیو بانکونو کې زېرمه شوه.

کله چې ملت د دغو فرېبکارانو په چلونو او دوکو پوه شو، له هغوی څخه یې واک واخیست او پر ضد یې ودرېد، نو د کابل اداره رنګه شوه او اسلامي امارت د هېواد د مدیریت او رهبرۍ مسئولیت پر غاړه واخیست.

سره له دې چې د کابل ادارې ډېر چارواکي له هېواده وتښتېدل او د هېواد شتمنۍ یې له ځان سره یوړې، خو اسلامي امارت هغه مهال ... ۳مخ

زابل کې ۹ ښوونځیو ته ودانۍ جوړې شوې

د زابل ولایت د شاجوۍ ولسوالۍ اوسېدونکو په تېرو دوو کلونو کې د خپلو مالي مرستو پر مټ د ۹ ښوونځیو لپاره ودانۍ جوړې کړې دي. د چارواکو په وینا، د دغو پروژو پر جوړولو شاوخوا ۳ میلیونه افغانۍ لګول شوي، چې له امله یې نږدې ۱۵ زره زده‌کوونکو ته د زده‌کړو خوندي چاپېریال ... ۳مخ

کابل ښاریان د کورونو د کرایو له لوړوالي شکایت کوي

د کابل ښار یو شمېر اوسېدونکي شکایت کوي، چې د کورونو کرایې په بې‌ساري ډول لوړې شوې او د دوی اقتصادي ژوند یې له سختو ستونزو سره مخ کړی دی. کابل مېشتي وايي چې د کرایو د لوړوالي له امله د دوی میاشتني لګښتونه ډېر شوي او د کور موندل ورځ تر بلې سختېږي. دوی نیوکه کوي، چې د کورونو مالکان په خپله خوښه کرایې لوړوي. کابل ښاریان د اسلامي امارت له مسئولینو غواړي، چې دا ستونزه جدي تعقیب کړي، ترڅو د سرغړونو مخه ونیول شي. کارپوهان له پاکستان او ایران څخه د راستنېدونکو کډوالو زیاتوالی د کرایو د لوړوالي له مهمو لاملونو څخه ګڼي.

افزایش ۱۹ درصدی کشت کچالو در پنجشیر

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری پنجشیر گفته‌است که ساحات زیر کشت کچالو در این ولایت، نسبت به سال گذشته ۱۹ درصد افزایش یافته است. قاری فضل‌الله دیوبند، رئیس زراعت، آبیاری و مالداری ... ص۳

خوست کې د سېلابونو له امله پراخ مالي او کرنیز زیانونه اوښتي

د خوست د نادرشاه کوټ ولسوالۍ اړوند سپین کاڼ او شاوخوا نورو سیمو کې راوتلو سېلابونو ګڼ شمېر کورونه ویجاړ کړي او سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه یې له منځه وړې ده. د سیمې اوسېدونکو ویلي چې شاوخوا ۴۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د سېلابونو له امله په بشپړه توګه ویجاړه شوې، د اوبو د تنظیم لپاره جوړ شوي کاریز او سیفون هم له کاره لوېدلي دي. د سیمې اوسېدونکو په وینا، ډېرې کورنۍ له خپلو کورونو بې ځایه شوي، استنادي دېوالونه سېلابونو وړي او په یاده سیمه کې شته یوازینی ښوونځی هم زیانمن شوی دی. عامو خلکو له مرستندویو بنسټونو د مرستې غوښتنه کړې ده. ورته مهال د خوست ... ۳مخ

تکسی های آنلاین؛ پل ارتباط میان فناوری و نیاز شهروندان

محمد یعقوب

با تحول گسترده در سیستم های فناوری حمل و نقل در جهان، ایجاد و فعالیت تکسی‌های آنلاین؛ مزایا و فواید چشمگیری در کاهش هزینه ها، صرفه جویی زمان و افزایش امنیت سفر به همراه داشته و نقش مهمی در بهبود کیفیت زندگی شهروندان ایفا می نماید.
ضمناً از سهولت و فواید بیشتر تکسی های آنلاین، از شفافیت هزینه، تعیین دقیق کرایه پیش از شروع سفر و حذف چانه زنی، صرفه جویی در زمان، دسترسی سریع به موتر، عدم نیاز به گشتن دنبال جای پارک، امنیت و نظارت پذیری، امکان ردیابی زنده مسیر، ثبت مشخصات دقیق راننده و واسطه نقلیه، اشتراک گذاری سفر با اعضای خانواده، امکان درخواست موتر در هر ساعت از شبانه روز، ایجاد فرصت‌های شغلی و منبع خوب درآمد ، یاد آورد شد.
یکی از سیستم های حمل و نقل که در شهرهای بزرگ جهان مورد استفاده قرار می گیرد و توجه بیشتر استفاده کنندگان را به خود جلب کرده است، سیستم تکسی های انترنیتی می باشد. این سیستم همچون سایر سیستم های حمل و نقل بخاطر داشتن بیشترین کارآیی بر قیمت گذاری ثابت منطبق با عدالت اجتماعی استوار بوده، که در آن منافع تمام گروه های ارایه دهنده و استفاده کننده در نظر گرفته می شود. برای حفظ و رسیدن به این هدف طولانی مدت، میزان اهمیت منافع هر کدام از گروه های دخیل در سیستم تعیین و مراقبت میگردد.
طبق گزارش هایی که در این اواخر رسانه ای شده است؛ نخستین شرکت تکسی آنلاین در افغانستان آغاز به فعالیت نموده است. ایجاد همچو فناوری های خدمات حمل و نقل شهری مثمر ثمر بوده، سهولت و فواید بی شماری در قبال خواهد داشت.
وزارت ترانسپورت و هوانوردی امارت اسلامی افغانستان به تازگی اعلام کرده است که نخستین شرکت رسمی تکسی رانی انترنیتی افغانستان به نام «افغان تکسی آنلاین» پس از دریافت مجوز فعالیت، خدمات خود را در شهر کابل شروع نموده است. اقدامی که از آن به‌عنوان گامی در راستای مدرن سازی خدمات حمل ونقل شهری می توان یاد آور شد.
براساس اعلامیه وزارت ترانسپورت و هوانوردی، شرکت افغان تکسی آنلاین پس از دریافت جواز رسمی فعالیت، خدمات خود را در شهر کابل آغاز کرده و شهروندان می‌توانند از طریق یک اپلیکیشن ویژه، درخواست تکسی داده و از خدمات این شرکت استفاده کنند.
مسئولان در وزارت ترانسپورت و هوانوردی امارت اسلامی، هدف از صدور این مجوز را توسعه خدمات شهری، استفاده از فناوری‌های نوین در بخش حمل ونقل و حمایت از سرمایه گذاری بخش خصوصی عنوان کرده‌اند. به گفته این وزارت، راه‌اندازی همچو خدمات می‌تواند به بهبود دسترسی شهروندان به وسایل حمل‌ونقل و ارتقای کیفیت خدمات شهری کمک کننده باشد.
این نخستین بار است که یک شرکت تکسی انترنیتی به صورت رسمی در کشور مجوز فعالیت دریافت می‌کند؛ اقدامی که می‌تواند زمینه را برای گسترش خدمات حمل‌ونقل هوشمند و دیجیتالی در کشور فراهم و گسترش دهد.
مسئولان شرکت افغان تکسی آنلاین می‌گویند: هدف از راه‌اندازی این فعالیت، فراهم‌آوری سهولت‌های بیشتر در بخش ترانسپورت شهری، ارتقای کیفیت خدمات و ایجاد یک سیستم مصئون و مدرن برای شهروندان است. به گفته‌ی آنان این شرکت تلاش دارد تا خدمات آنلاین ترانسپورتی را در کشور نهادینه کرده و با استفاده از فناوری، دسترسی شهروندان به وسایط نقلیه را آسانتر کند.
با این حال، شماری از کارشناسان معتقدند که کمبود روند منظم آدرس دهی شهری، نام گذاری نشدن برخی از کوچه ها و جاده‌ها، کمبود تابلوهای راهنما و مشکلات زیرساختی، از چالش‌های مهم پیش روی فعالیت شرکت تکسی آنلاین خواهد بود.
آنان می‌گویند که مثمریت این طرح در کنار توسعه فناوری، نیازمند بهبود زیرساخت‌های شهری، دسترسی گسترده تر به انترنیت و افزایش آگاهی شهروندان درباره استفاده از خدمات دیجیتالی می باشد.
خدمات شهری آنلاین، چی دربخش تکسی باشد یا در بخش‌های دیگر؛ نیازمند یک طرح و روند جامع در چوکات اصول و مقررات ویژه است، تا از ارایه این خدمات، شهروندان و مسافران نهایت استفاده را نموده، مفید و اقتصادی تمام گردد.
در نهایت شهروندان به راحتی و سهولت بتوانند از سیستم های طراحی شده ارایه دهنده ها استفاده مثمر نموده، به گونه‌ی آنلاین درخواست تکسی بدهند و از خدمات آنان در اوقات و ساحات گوناگون شهر بهره مند و مستفید شوند.

د پاکستان له نامه سره د ګاونډې کلمه مه کاروئ

حبیب‌الرحمن رحیمي

څرنګه چې له پخوا زمانې څخه متل را پاتې دی چې کور مه اخله ګاونډي واخله، مګر که دامتل په لویه کچه را واخلو، زموږ هېواد ته داسې یو ګاونډی ور په برخه شوی چې د هېڅ انساني قانون منلو ته غاړه نه ږدي، بلکې د ځنګلي ښاروي په څېر د خپلې خېټې د مړولو لپاره څري، مګر داسې یو چاته به د ګاونډي کلیمه کارول هم مناسبه نه وي، ځکه یاده کلیمه هغه چاته کارول کېږي څوک چې تاته ضرر نه رسوي، متقابل درناوی دې وکړي، هغو ټولو حقوقو ته چې یو ګاونډی یې پر بل لري ژمن پاتې شي، عملي یې کړي او له نورو هم وغواړي چې د ګاونډیتوب اصول مراعات او د ټولنې د نظم په ساتلو کې ونډه واخلي.
په داسې حال کې چې د پاکستان په نامه تپل شوی هېواد چې له رامنځته کېدو راهیسې په سیمه کې ځنګلورو هېوادونو ته له شرارت، بې نظمۍ او ویجاړیو څخه پرته یې کوم خیر نه دی رسولی، نه هم د ګاونډیتوب اصولو ته ژمن پاتې شوی دی، هر چېرته او په هر راز یې چې زور رسېدلی دی، افغانان یې ځورولي دي چې ښکاره بېلګه یې کډوال دي چې له نړیوالو منل شویو حقوقو څخه په سرغړونې یې د دوی پر وړاندې ظالم پوځ له هېڅ راز تېري او ظلم څخه صرفه ونه کړه، پر دې سربېره د افغانستان پر خاوره په ځلونو هوایي وحشیانه بریدونه چې قربانیان یې ښځې، ماشومان، معلولین، ناروغان، مسجدونه، روغتونونه، ښوونځي او نور دي هېڅکله د ښبلو، زغملو او د خاموشۍ وړ نه دي، بلکې د دوی د سپین سترګۍ، بې شرمۍ او غیر انساني چلند ورځ په ورځ هغه څېره څرګندوي چې نړیوالو یې پر وړاندې خاموشي غوره کړې ده، ځکه دوی دا د بشریت دښمن لا ښه پېژندلی نه دی.
په هر حال په کار دا ده چې د پاکستان لپاره د ګاونډي کلیمه کارول پخپل ځای کې زیاتی دی، ځکه ګاونډیان له دې سره سره چې د انساني ژوند د غوښتنې او طبیعت له مخې ستونزې سره لري، مګر په وژلو، کور ړنګولو، د مسجد په شهیدولو او د بې ګناه وګړو په ځورولو سره به د ګاونډي کلیمه کارول هغه بې انصافي وي چې تاریخ به مو هېڅکله ونه بښي. له همدې مخې له ټولو دولتي ادارو او افغانانو څخه هیله دا ده چې د ظالم ملک له نامه سره د ګاونډي کلیمه ونه کاروي، ځکه چې ګاونډی داسې نه وي او نه داسې چلند پر مخ وړي .

وخت هغه نعمت دی چې بیا نه راګرځي، نو پر اهمیت یې پوه شئ!

مولوي ضیاءالحق حسان

د نعمتونو شکر دا دی چې هغه په خپل ځای کې استعمال شي، له لویو نعمتونو څخه یو هم وخت دی، د نعمتونو یادول او د نېکو اعمالو په وسیله یې شکر ادا کول یو مهم عمل دی؛ ځکه څوک چې د الله شکر وباسي، الله تعالی یې توفیق او نعمتونه نور هم زیاتوي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: او (یاد کړئ) کله چې ستاسو پالونکي اعلان وکړ: که شکر وباسئ، زه به خامخا تاسې ته نور هم در زیات کړم او که ناشکري وکړئ، نو بېشکه زما عذاب ډېر سخت دی. (إبراهیم: ۷)
وخت، زمانه او عمر داسې پانګه ده چې انسان یې هره شېبه مصرفوي؛ یا به یې په ګټه لګوي او یا به یې بې ګټې ضایع کوي. ځکه چې وخت د انسان له ټولو ارزښتمنه شتمني ده، نو په بې ګټې چارو کې یې ضایع کول د انسان له سترو تاوانونو څخه شمېرل کېږي.
څوک چې د خلکو ژوند او حالات وڅاري او ګوري چې خپل وختونه څنګه تېروي او عمرونه په څه ډول مصرفوي، پوه به شي چې ډېر خلک خپل قېمتي وختونه ضایع کوي، د عمر د نعمت له سمې ګټې اخیستنې بې‌برخې دي او لا د تعجب خبره دا ده چې د ورځو په تېرېدو او د کلونو په پرله‌پسې تېرېدو خوشحاله وي، حال دا چې په غفلت کې ډوب او له حقیقت څخه بې‌پرواګرځي.
ابن جوزي «رحمه الله» وایي: انسان ته ښایي چې د خپل وخت په ارزښت او د خپلې زمانې په شرافت پوه شي، کله چې پوه شو، نو بیا به یوه شېبه هم د الله تعالی له نږدېوالي پرته په بل څه ضایع نه کړي او تل به په وینا او عمل کې غوره کار ته لومړیتوب ورکړي.
قرآنکریم او نبوي سنتو دواړو د وخت اهمیت په بېلابېلو ډولونو بیان کړی دی. الله تعالی د قرآنکریم د ګڼو سورتونو په پیل کې په وخت قسم کړی؛ لکه په شپه، ورځ، سهار (فجر)، څاښت (ضحی) او مازیګر (عصر).
څرګنده ده چې کله الله تعالی په کوم شي قسم وکړي، نو دا د هغه شي پر ستر اهمیت او لویې ګټې دلالت کوي، څو د خلکو پام ور واړوي.
نبوي سنتو هم د وخت پر ارزښت ټینګار کړی او څرګندوي چې انسان به د قیامت په ورځ د خپل وخت په اړه پوښتل کېږي. له معاذ بن جبل «رضي الله عنه» څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به د بنده پښې تر هغه ځایه نه خوځېږي، څو چې له څلورو شیانو څخه پوښتنه ترې ونه شي: د خپل عمر په اړه چې په څه یې تېر کړ؟ د خپل بدن په اړه چې په څه یې زوړ کړ؟ د خپل مال په اړه چې له کومه یې ترلاسه کړ او پر څه یې ولګاوه؟ او د خپل علم په اړه چې څومره یې پرې عمل وکړ؟
ابن جوزي «رحمه الله» وایي: کله کله انسان روغ وي، خو د روزګار په بوختیا کې د عبادت فرصت ونه لري؛ او کله شتمن وي، خو روغتیا ونه لري. که روغتیا او فرصت دواړه ورته برابر شي، خو بیا هم د طاعت پر ځای سستي غوره کړي، نو همدا له ټولو لوی زیانمن دی.
کله چې موږ د وخت پر ارزښت پوه شو، نو لازمه ده چې د ساتنې او ښې ګټې اخیستنې لپاره یې هڅه وکړو. له دې جملې څخه: لومړی: د دې قېمتي وخت د هرې شېبې د ساتنې هڅه کول او یوه لحظه هم بې‌ګټې نه ضایع کول.
حسن بصري «رحمه الله» وایي: ما داسې خلک لیدلي وو چې هغوی د خپل وخت په ساتنه کې له دې ډېر حریص وو، څومره چې تاسې د خپلو درهمونو او دینارونو په ساتنه کې حریص یاست.
دویم: د وخت منظمول؛ یعنې اهم کارونه پر مهمو کارونو مقدمول، په ځانګړي ډول هغه څوک چې د الله حق، د مور او پلار حق، د مېرمنې او اولادونو حق او د خلکو حقونه ټول پر غاړه لري.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بېشکه ستا د رب پر تا حق شته، ستا د نفس پر تا حق شته او ستا د کورنۍ پر تا حق شته؛ نو هر حق لرونکي ته یې حق ورکړه.
درېیم: د فراغت له وخت څخه ګټه اخیستل؛ ځکه فراغت یو ستر نعمت دی، خو ډېر خلک یې قدر نه پېژني.
له عبد الله بن عباس «رضي الله عنهما» څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه نعمتونه داسې دي چې ډېر خلک په هغو کې تاواني دي: روغتیا او فراغت.
او رسول الله ﷺ د فراغت د وخت د غنیمت ګڼلو په اړه وفرمایل: له پنځو شیانو وړاندې پنځه شیان غنیمت وبوله: ځواني له بوډاتوب وړاندې، روغتیا له مرضه وړاندې، مالداري له غریبۍ وړاندې، فراغت له بوختیا وړاندې او ژوند له مرګه وړاندې.
د وخت د ضایع کېدو او بې‌ځایه لګېدو د مخنیوي لپاره باید هغه اسباب غوره کړو چې د وخت په ساتنه کې مرسته کوي. له هغو څخه مهم یې دا دي: لومړی: د خپل نفس محاسبه کول؛ یعنې انسان دې ځان ته وګوري چې خپل وخت یې په څه کې لګولی دی. دا له هغو سترو لارو څخه ده چې مسلمان د الله تعالی په اطاعت کې د خپل وخت له غنیمت ګڼلو سره مرسته کوي.
دویم: د لوړ همت روزل؛ ځکه څوک چې خپل نفس د لوړو موخو او سترو کارونو لپاره وروزي او له سپکو او بې‌ارزښته چارو څخه ځان وساتي، هغه به د خلکو له ټولو زیات د خپل وخت ساتونکی وي. د لوړ همت خاوند هېڅکله په ټیټو موخو نه قانع کېږي.
لکه عربي کې یو شاعر چې وایي: ژباړه: کله چې انسان لوړ همت ولري، لوړو مقامونو ته رسېدل غواړي؛ او په ټیټو چارو یوازې هغه څوک قانع کېږي چې همت یې ټیټ وي.
درېیم: د هغو کسانو ملګرتیا کول چې د خپل وخت ساتنه کوي؛ ځکه د هغوی صحبت، نږدېوالی او د هغوی پر لاره تلل انسان هڅوي چې د خپل عمر ساعتونه د الله تعالی په اطاعت کې ولګوي.
څلورم: د سلفو صالحینو د وخت د ساتنې له حالاتو ځان خبرول؛ ځکه د هغوی د ژوند د تاریخ لوستل او د هغوی د کړنو پېژندل مسلمان ته له ټولو ستره مرسته ده، څو خپل وخت په ښه ډول وکاروي. هغوی د وخت پر ارزښت له ټولو ښه پوه شوي وو او د عمر هره شېبه یې د الله تعالی په اطاعت کې لګوله.
عبد الله بن مسعود «رضي الله عنه» وایي: زه د هېڅ شي له امله دومره نه یم پښېمانه شوی، لکه د هغې ورځې له امله چې لمر یې ولوېد، زما له عمره یوه ورځ کمه شوه، خو زما په عمل کې زیاتوالی ونه شو.
او عمر بن عبد العزیز «رحمه الله» وایي: شپه او ورځ ستا عمر کموي؛ نو ته هم په همدې شپه او ورځ کې نېک عمل کوه.
موسی بن إسماعیل «رحمه الله» وایي: که زه درته ووایم چې ما هېڅکله حماد بن سلمة په خندا ونه لید، نو رښتیا به مې ویلي وي؛ ځکه هغه به تل په کوم عبادت بوخت و: یا به یې حدیث بیاناوه، یا به یې قرآن لوسته، یا به یې تسبیح ویله او یا به یې لمونځ کاوه. هغه خپله ورځ د همدې عبادتونو ترمنځ وېشلې وه.
ابن القیم «رحمه الله» وایي: د وخت ضایع کول له مرګه هم سخت دي؛ ځکه د وخت ضایع کول انسان له الله تعالی او د آخرت له کور څخه بېلوي، خو مرګ انسان یوازې له دنیا او د دنیا له خلکو بېلوي.
پنځم: د وخت د مصرفولو په چارو کې تنوع راوستل؛ ځکه د انسان نفس ژر ستړی کېږي او له یو ډول کار څخه تنګېږي. د کارونو بدلون انسان تازه ساتي او د وخت له لا ښې ګټې اخیستنې سره مرسته کوي.
شپږم: دا درک کول چې تېر شوی وخت بېرته نه راګرځي او هېڅکله نه جبرانېږي. هره ورځ، هر ساعت او هره شېبه چې تېره شي، بیا یې راګرځول ناشوني دي.
اووم: د مرګ، د احتضار د شېبې او د قیامت د ورځې د حساب یادول؛ هغه مهال چې انسان به له دنیا څخه مخ اړوي او آخرت ته به روان وي، ارمان به کوي چې کاش لږ نور وخت یې هم درلودای، څو خپل خراب شوي عملونه یې سم کړي او پاتې فرصتونه یې جبران کړي وای؛ خو هغه وخت به ډېر ناوخته وي، د عمل وخت به پای ته رسېدلی وي او د حساب او جزاء وخت به را رسېدلی وي.
الله تعالی دې زموږ وختونه په نېکو اعمالو او مفیدو کارونو ښایسته کړي.
آمین

اسلامي فرهنګ؛ مفهوم، ځانګړنې او د امت د بقا راز

مولوي سردارمحمد «حصیف الحقاني» / دویمه برخه

دویم بنسټ: قرآن او سنت

د اسلامي فرهنګ دویم او له ټولو مهم بنسټ له عقیدې وروسته قرآنکریم او نبوي سنت دی. که عقیده د اسلامي فرهنګ روح وي، نو قرآن او سنت یې لارښود، قانون او د ژوند تګلاره ده. د مسلمانانو ټول فرهنګي، اخلاقي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ارزښتونه له همدې دوو سرچینو څخه راوتلي دي.
الله تعالی د انسان د هدایت لپاره قرآنکریم نازل کړ او رسول الله ﷺ یې د دې کتاب عملي مفسر او ښوونکی وګرځاوه. له همدې امله اسلامي فرهنګ هغه وخت صحیح او سالم پاتې کېږي چې د قرآن او سنتو له لارښوونو سره سمون ولري.

قرآنکریم د اسلامي فرهنګ سرچینه

قرآنکریم د الله تعالی وروستی اسماني کتاب دی چې د انسان د دنیا او آخرت د کامیابۍ لپاره نازل شوی دی. په قرآنکریم کې د انسان د ژوند ټول اساسي اصول بیان شوي دي.
الله تعالی فرمایي: ژباړه: «بېشکه قرآن هغې لارې ته لارښوونه کوي چې له ټولو سمه او غوره ده.» (سورة الإسراء: ۹)
قرآنکریم یوازې د عبادت کتاب نه دی، بلکې د ژوند بشپړ دستور دی او پکې د عقیدې، اخلاقو، عدالت، کورنۍ، اقتصاد، سیاست او ټولنیزو اړیکو په اړه لارښوونې شته.

د قرآن او سنتو د پرېښودو زیانونه

کله چې مسلمانان له قرآن او سنتو څخه لرې شي، د فکري ګډوډۍ، اخلاقي انحطاط او فرهنګي بې هویتۍ ښکار کېږي.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ژباړه: «ما په تاسو کې دوه شیان پرېښي دي، تر څو چې پرې منګولې ولګوئ، هېڅکله به بې لارې نه شئ: د الله کتاب او زما سنت.» (الموطأ للإمام مالك، ۸۹۹/۲)

دمسلمانانو مسئولیت

د اسلامي فرهنګ د ساتنې لپاره اړینه ده چې مسلمانان خپل ټولنیز او فرهنګي ژوند د اسلامي لارښوونو مطابق تنظیم کړي.
قرآنکریم او نبوي سنت د اسلامي فرهنګ دویم او اساسي بنسټ دی. دا دواړه د مسلمانانو د عقیدې، اخلاقو، تمدن او هویت سرچینې دي. هر څومره چې مسلمانان له قرآن او سنتو سره تړاو ولري، هومره به یې فرهنګ پیاوړی، هویت به یې خوندي او ټولنه به یې نېکمرغه وي. له همدې امله د اسلامي فرهنګ د بقا او پرمختګ راز د قرآن او سنتو په تمسک کې نغښتی دی.
د اسلامي فرهنګ د زوال عوامل: اسلامي فرهنګ د مسلمان امت د هویت، عزت او تمدن بنسټ دی. کله چې مسلمانان د خپل فرهنګ له اصولو څخه لرې شي، نو کمزوري، تفرقه، فکري ګډوډي او اخلاقي انحطاط رامنځته کېږي. د اسلامي تاریخ مطالعې ښودلې ده چې د اسلامي فرهنګ د کمزورۍ او زوال تر شا بېلابېل عوامل موجود دي.

۱ - له قرآن او سنتو څخه واټن

د اسلامي فرهنګ د زوال له ټولو ستر عامل د قرآنکریم او نبوي سنتو پرېښودل دي. قرآن او سنت د اسلامي ژوند لارښود او د مسلمانانو د فرهنګ اصلي سرچینې دي. کله چې مسلمانان له دې الهي سرچینو څخه لرې شي، نو د دوی عقیده، اخلاق او ټولنیز نظام کمزوری کېږي.
الله تعالی فرمایي: ژباړه: «او څوک چې زما له یاد (قرآن) څخه مخ واړوي، نو د هغه لپاره به ژوند تنګ وي.» (طه: ۱۲۴)
نن ورځ د اسلامي امت ډېرې ستونزې د همدې واټن پایله ده، ځکه قرآن یوازې د تلاوت کتاب ګڼل کېږي، نه د عملي ژوند لارښود.

۳مخ

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدین‌وسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می‌شود، ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری درنظر دارد، قرارداد پروژه اعمار تعمیرداری کانکس بخش عوایدی ریاست زون کابل خویش راکه تحت شماره داوطلبی.
UWASS-SOC/1405/NCB/W/001 می باشد را با شرکت محترم ساختمانی الهام همت دارندهٔ جواز شماره ۶۹۸۲۶ آدرس: شاه شهید سرک اول مرکزکابل، را به قیمت مجموعی مبلغ ٥,٦٩٢,٨٠١/٣٤ پنج میلیون و شش صدو نودو دوهزارو هشت صدویک اعشاریه سی وچهارافغانی پروژه متذکره اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری واقع سرتپهٔ کارته نو ناحیه هشتم شهر کابل؛ وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

خبرتیا

ملی بس امارتی شرکت په پام کی لري، چي د کابل ښاروالی اتمي ناحيې اړوند سیاه سنګ ساحه کي په (۱۸۴۸۲) متر مربع مساحت سره یو باب مارکیت چې د سرک په سر (۱۰) بابه هټۍ چې متفاوتې اندازې لري او دوهم پوړکې دری دفتري اطاقونه او یو باب ګدام (۴۷۰،۵۳) متر مربع او نور په مخروبه ډول، داخل مارکیت کې (۹) بابه هټۍ (۱۷۱) بابه هټۍ په مختلفو اندازو سره چې د ګدامونو په ډول استفاده تري کيږي. دوه پوړه خامی هټۍ چې (۲۴۷) متر مربع مساحت لري ، او ۵ بابه ګدامونه (هنګرونه) چي متفاوت مساحتونه لری ، د دریو کالونه لپاره د داوطلبۍ پروسی له لارې په کرایه وکړي.
ټول حقیقی او حکمی اشخاص چي معتر جواز او د امارتی ځمکو د اجاري، کرايې او تدارکاتو قانون مطابق اهلیت او د یاد ملکیت په کرایه نیولو ته لیوالتیا ولري، کولای شي د اعلان د خپریدو له نیټي څخه تر ۲۱ روځو پورې خپل غوښتنلیکونه، د جواز کاپې او د تابعیت تذکره د ملی بس امارتي شرکت د جایدادونو د ترون عمومي مدیریت ته چې د کابل ښاروالی ۱۶ می ناحيې اړوند زنده بابانو کي ورکونکو ریاست تر څنګ موقعیت لري مراجعه وکړي ترڅو شرطپانه تر لاسه او مطالعه کړی. د شرطپانی قیمت (۲۰۰۰) دوه زره افغانۍ د چي بیا نه ورکول کیږي او د تضمین پیسی په نقدی ډول اخستل کیږي.۳۱۳۹

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت هویت وکالت دفاع شماره ۴۰۳۸ مورخ ۱۳۹۹/۷/۳۰ مربوط محترم عبدالرحمن بیک فرزند محمد الله که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۲۰۱

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی نمبر ۱۶۷۲/۱۴۴۱ مورخ ۱۴۰۲/۷/۹ مرتبه محکمه حوزه سوم استیناف کابل به اسم محمد جواد رحیمی فرزند عبدالخالق ولدیت حسین داد محترمه منصوره قمبری بنت شا حسین ولدیت نادر علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۰۴

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث تجارتی و خدمات لوژستیکی باختر یونین نمبر ۸۴۴۳۵ به اسم ذبیح الله فرزند عجب گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان واقع ناحیه هشتم کوچه کلینیک به اسم احمد بلال فرزند عبدالاحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۳۳

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم محرم علی فرزند سلطان مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۳۴

اسلامي فرهنګ؛ مفهوم، ځانګړنې او ...

۲- د پردیو روند تقلید

د اسلامي فرهنګ د زوال بل مهم عامل د غیر اسلامي ملتونو روند تقلید دی. کله چې مسلمانان د خپل ديني او فرهنګي هويت پر ځای د نورو ملتونو دودونه، لباس، افکار او ارزښتونه بې له تفکره خپل کړي، نو خپل اصالت له لاسه ورکوي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ژباړه: «څوک چې د کوم قوم مشابهت اختيار کړي، هغه له هماغه قوم څخه شمېرل کېږي.» (سنن أبي داود، حديث: ۴۰۳۱)

د تقليد زيان دا دی چې مسلمانان ورو ورو پر خپل دين او فرهنګ د باور احساس له لاسه ورکوي او د پرديو کلتور ته د پرمختګ په سترګه ګوري.

۳- د علم کمزوري او ناپوهي

علم د هر تمدن او فرهنګ د بقا ضامن دی. کله چې په یوه ټولنه کې علم کمزوری شي، نو جهالت، خرافات او فکري انحرافات خپرېږي.

د اسلام لومړنی نازل شوی حکم د علم په اړه دی: ژباړه: «ولوله د خپل رب په نامه چې پيدا يې کړل.» (سورة العلق: ۱)

مسلمانانو هغه مهال د نړۍ مشري کوله چې د علم، تحقيق او مطالعې مشعل يې په لاس کې و؛ خو کله چې له علم څخه لرې شول، د کمزورۍ او وروسته پاتې کېدو ښکار شول.

۴- اخلاقي انحطاط

اخلاق د هر فرهنګ ښکلا ده. که اخلاق له منځه ولاړ شي، فرهنګ هم خپل ارزښت له لاسه ورکوي. دروغ، خيانت، رشوت، ظلم، حسد، تکبر او بې حيايي هغه ناروغۍ دي چې د ټولنې اخلاقي بنسټونه کمزوري کوي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ژباړه: «زه د غوره اخلاقو د بشپړولو لپاره رالېږل شوی يم.» (مسند أحمد)

کله چې په یوه ټولنه کې اخلاقي فساد عام شي، نو د اسلامي فرهنګ رڼا هم ورو ورو مړه کېږي.

۵- د مسلمانانو ترمنځ تفرقه

يووالی د اسلامي امت د ځواک راز دی او تفرقه د کمزورۍ لامل ګرځي. د قومي، ژبنيو، سمتي او شخصي اختلافاتو له امله د امت قوت کمزوری کېږي.

الله تعالی فرمايي: ژباړه: «خپلمنځي شخړې مه کوئ، کنه کمزوري به شئ او ځواک به مو له منځه ولاړ شي.» (سورة الأنفال: ٤٦).

د اسلامي تاريخ ډېرې ناکامۍ د داخلي اختلافاتو پايله وې.

۶- د رسنيو او فکري يرغل اغېزې

په اوسني عصر کې رسنۍ د فکر او فرهنګ د انتقال له ټولو قوي وسيلې دي. ډېرې نړيوالې رسنۍ داسې پروګرامونه خپروي چې د اسلامي ارزښتونو پر ځای بې حيايي، مادي پرستي او غير اسلامي مفکورې ترويجوي.

ځوان نسل که د ديني پوهې له رڼا بې برخې وي، د همدې فکري يرغل تر اغېزې لاندې راځي او له خپل اسلامي هويت څخه لرې کېږي.

۷- د کورنۍ کمزوري

کورنۍ د اسلامي فرهنګ لومړنۍ ښوونځی دی. که کورنۍ د خپلې تربيې مسئوليت هېر کړي، نو راتلونکی نسل به له اسلامي ارزښتونو څخه ناخبره لوی شي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

ژباړه: «تاسو ټول مسئول یاست او له خپلو مسئوليتونو څخه به پوښتل کېږئ». (صحيح البخاري).

کله چې په کورونو کې ديني تربيه کمه شي، د اسلامي فرهنګ د کمزورۍ زمينه برابرېږي.

۸- د دنيا غوښتنه او د آخرت هېرول

کله چې د انسان ټول فکر يوازې د دنيا ګټو ته متوجه شي او د آخرت فکر کمزوری شي، نو د اسلامي ارزښتونو پر ځای مادي غوښتنې غالبېږي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ژباړه: «د دنيا مينه د هرې ګناه بنسټ دی». (شعب الأيمان للبيهقي)

د دنيا بې حده مينه انسان د دين، اخلاقو او فرهنګي ارزښتونو له ساتنې څخه غافلوي.

د اسلامي فرهنګ زوال ناڅاپي نه راځي، بلکې د قرآن او سنتو پرېښودل، ناپوهي، اخلاقي فساد، تفرقه، د پرديو تقليد، فکري يرغل او د کورنۍ کمزوري يې مهم عوامل دي. که مسلمانان غواړي خپل فرهنګ، هويت او عزت خوندي وساتي، نو بايد بېرته قرآن او سنتو ته راوګرځي، علم ته وده ورکړي، خپل اخلاقي ارزښتونه ژوندي کړي او د اسلامي ورورولۍ او يووالي روحيه پياوړې کړي. همدا د اسلامي فرهنګ د بقا او بيا راژوندي کېدو له ټولو مؤثره لاره ده.

د زړه پر ناروغیو د اخته ماشومانو لپاره ...

اخته وي، په وړيا توګه درملنه او عمليات ترلاسه کړي. ښاغلي دلاور همدارنګه ټينګار کړی، چې د افغاني سرې مياشتې ټولنه د طبيعي پېښو له زيانمنو شويو کسانو سره د مرستې او بېرته راستنېدونکو کډوالو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره بشپړ چمتووالی لري. شيخ شهاب‌الدين دلاور د افغاني سرې مياشتې د بشري مرستو فعاليتونو ته په اشارې ويلي، چې دغه اداره د طبيعي پېښو، لکه د زلزلو او سېلابونو پر مهال له لومړنيو مرستندويه بنسټونو څخه ده، چې اوس مهال هم د راستنېدونکو کډوالو د هرکلي او خدمتونو لپاره په بېلابېلو مرکزونو، اسلام‌کلا، تورخم، سپين‌بولدک او نيمروز کې روغتيايي اسانتياوې، خوراکي مرستې او بېړني خدمتونه برابروي. نوموړي ويلي، چې د افغاني سرې مياشتې ټولنه د هېواد له مهمو مرستندويه بنسټونو څخه ده چې د بشري مرستو، روغتيايي خدمتونو، د طبيعي پېښو د زيانمنو شويو کسانو د ملاتړ او له کډوالو سره د مرستې په برخو کې فعاليت کوي. د ده په وينا، دغې ټولنې په وروستيو کلونو کې د درملنې او بېړنيو مرستو په برخه کې خپل خدمات لا پراخ کړي دي.

کونړ کې د ځمکې پر سر اوږدمهاله شخړه هواره شوه

د کونړ ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو د رئیس په مشرۍ او د قومي مشرانو، ديني عالمانو او مخورو په هڅو د دغه ولایت په دانګام ولسوالۍ کې د تېرو پنځو کلونو شخړه پای ته رسېدلې ده. یاده شخړه، چې د ځمکو د ملکیت پر سر راپورته شوې وه او کلونه کلونه یې دوام کړی و، د ژورو اختلافاتو له کبله څو څو ځله د دواړو لوریو ترمنځ پکې اخ او ډب هم راپورته شوی و، چې بالاخره د مسئولینو په هڅو پای ته ورسېده. د شخړې د حل په مراسمو کې د اسلامي امارت مشرانو د عفوې او بښنې پر ارزښت خلک وپوهول او له ګډونوالو یې وغوښتل، چې په داسې موضوعاتو کې له زغم او صبر څخه کار واخلي.

۱۹۰۱ مهاجر افغان از ایران و پاکستان به کشور برگشتند

کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، اعلام کرده که ایران و پاکستان ۱۹۰۱ شهروند افغانستان را اخراج کرده اند. این کمیسیون دیروز در اکس نوشته که این شهروندان افغانستان روز گذشته از طریق گذرگاه‌های مرزی سپین‌بولدک در کندهار، تورخم در ننگرهار، اسلام‌قلعه در هرات و بهرامچه در هلمند، به افغانستان برگشته اند. به گفته‌ی کمیسیون رسیدگی به مشکلات مهاجرین، به بازگشت‌خوردگان از ایران و پاکستان کمک‌رسانی شده است. بر بنیاد آمار ارائه‌شده از سوی سازمان ملل متحد، تا پایان سال روان میلادی دو میلیون و ۸۰۰ هزار تن به افغانستان باز خواهند گشت.

بازداشت ۶ تن در پیوند به سرقت در چند ولایت کشور

وزارت امور داخله افغانستان اعلام کرده است که شش تن در ارتباط به جرایم سرقت در ولایات مختلف کشور بازداشت شده‌اند.

این وزارت دیروز در صفحه رسمی ایکس خود نوشته است که نیروهای مبارزه با جرایم جنایی طی چندین عملیات جداگانه این افراد را شناسایی و بازداشت کرده‌اند. بر اساس این اعلامیه، یک تن در ولایت هرات به اتهام سرقت دو عراده موتر، سه تن در ولایت جوزجان در پیوند به سرقت از یک منزل مسکونی، یک تن در ولایت پکتیکا در ارتباط به سرقت و یک تن دیگر در ولایت دایکندی به اتهام سرقت یک عراده موترسایکل بازداشت شده‌اند.

د وخت په هنداره کې د مسئولینو ...

واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد له سختو ستونزو سره مخ او ډېرې ټيټې کچې ته رسېدلی و، خو د هېواد د آبادۍ لپاره رښتينی مديريت او مثبت نيت موجود و، چې پايلې يې په څو کلونو کې هم افغان ولس او هم نړۍ وليدلې.

که يو حکومت د خدمت کولو رښتينی نيت ولري، نو د وخت په تېرېدو سره کولای شي خپل هېواد او ولس ته اغېزمن خدمتونه ترسره کړي. د اسلامي امارت خدمتونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په بېلابېلو برخو کې دومره زيات دي چې د دې ليکنې حوصله او ظرفيت د هغو د بشپړ بيان توان نه لري.

لکه څنګه چې پورته يادونه وشوه، نيت او عمل يو څه دي او تشې خبرې او مبالغې بل څه. هغه څه چې د واقعيتونو او حقايقو په اړه له ټولو ښه قضاوت کولای شي، وخت دی؛ ځکه وخت د انسان د وينا، نيت او کړنو رښتينې هنداره ده. بايد پوه شو چې خلک او وخت دواړه زموږ د مثبتو او منفي کړنو په اړه قضاوت کوي.

د صنعت او کانونو نندارتون کې ...

څو د کورني توليد د پېژندنې او بازارموندنې لپاره زمينه برابره شي. د ياد رياست په خبره، دا نندارتون به د روانې مياشتې تر شپاړسمې نېټې پورې دوام وکړي. دغه نندارتون ته يو شمېر بهرني پانګوال هم راغلي دي.

چهار قضیه خشونت خانوادگی ...

رسیدگی، زمینه بهبود وضعیت و تأمین حقوق شرعی آنان فراهم شده‌است. مسئولان این وزارت می‌افزایند که رسیدگی به شکایات، جلوگیری از ظلم و ستم و حل منازعات اجتماعی از وظایف اساسی این نهاد بوده و محتسبین در مرکز و ولایت‌ها در این راستا فعالیت می‌کنند.

په ماشين‌خانه کې فرهنګي او نشراتي ...

داخلي او بهرنو څېړونکو ته نه يوازې واحد ادرس پيدا شي، بلکې د افغان هنرمندانو او ليکوالانو مالي ملاتړ به هم وشي. د ياد وزارت اړوند، د بيهقي کتاب خپرولو رئيس، عبدالعليم ځانواک مفتي‌زاده دولتي ورځپاڼو ته ويلي، چې دا کار د اميرالمؤمنين «حفظه الله تعالی» د حکم په اساس ترسره کېږي: تېر کال مو د خصوصي ناشرانو د کتاب د نشر او پلور لپاره د يو نشراتي، فرهنګي ښارګوټي اراده کړې وه، خو الحمدلله سږکال د اميرالمؤمنين «حفظه الله تعالی» له لوري حکم راغلی، چې دغه ښارګوټی په ماشين‌خانه کې جوړ کړو. ښاغلي مفتي‌زاده وايي چې په دغه ښارګوټي کې به لاسي صنايع، افغاني فرهنګي توليدات، مشهورې خپرندويې ټولنې، کاغذ واردوونکي، صادروونکي او نور اړوند بنسټونه و اوسېږي. فرهنګي شنونکی ذين الله ذهين وايي، چې دا کار له نورو ډېرو لاسته‌راوړنو مهم دی او بايد لا پخوا جوړ شوی وای: واقعيت دا دی چې تر اوسه موږ د کتابونو او فرهنګي برخې يو واحد ادرس نه لاره؛ دا کار بايد پخوا شوی وای، خو چې اوس کېږي دا هم لويه لاسته راوړنه ګڼم. ښاغلی ذهين يې د ګټو په اړه هم زياتوي: دا به زياتې ګټې ولري، په ځانګړې توګه د کتابونو برخه کې؛ د کتاب لوستلو فرهنګ ورسره قوي کېږي، د خپرندويو ټولنو او ليکوالانو مالي ملاتړ زياتېږي او کورنيو، نړيوالو او سيمه‌ييزو څېړونکو ته د سرچينو واحد ادرس په لاس ورځي. نوموړی له حکومته غواړي، چې يوازې په دې کار دې بسنه نه کوي او هيله لري، چې د کتاب لوستلو فرهنګ په غښتلتيا او لاسي صنايعو ته په بازار موندنه کې دې هره ممکنه لاره و ازمايل شي.

تاج محمد بهار

زابل کې ۹ ښوونځيو ته ودانۍ جوړې ...

برابر شوی دی. د شاجوی ولسوالۍ د پوهنې مدير حبيب الرحمن شهيد ويلي: د سيمې خلکو د پوهنې د پراختيا لپاره د پام وړ همکاري کړې ده. ده زياته کړې: «په تېرو دوو کلونو کې مو د خلکو په مالي ملاتړ د شاجوی ولسوالۍ د ۹ ښوونځيو لپاره د خښتو ودانۍ جوړې کړې، چې ۳ میلیونه افغانۍ پرې لګېدلې دي. خلکو د څښاک د پاکو اوبو او برېښنا په برابرولو کې هم مرسته کړې او که اړتيا وي، په راتلونکې کې هم همکارۍ ته چمتو دي.» د زابل ولايت د پوهنې رياست د معلوماتو له مخې، اوس مهال په دغه ولايت کې ۱۶۰ ښوونځي فعال دي، چې له دې ډلې ۶۰ ښوونځي لا هم ودانۍ نه لري. همداراز، دا مهال د زابل په ښوونځيو کې شاوخوا ۸۵ زره زده‌کړه‌کوونکي په زده‌کړو بوخت دي.

افزایش ۱۹ درصدی کشت کچالو ...

پنجشیر، گفته‌است که امسال ۱۰۹۲ هکتار زمین در این ولایت زیر کشت کچالو قرار دارد، در حالی که این رقم در سال گذشته ۹۱۸ هکتار بود. وی افزود که با افزایش ساحات زیر کشت و فراهم شدن شرایط مناسب، پیش‌بینی می‌شود که میزان حاصل کچالو در سال جاری نیز نسبت به سال گذشته افزایش یابد.

خوست کې د سېلابونو له امله پراخ مالي ...

ولایت ویاند مستغفر ګربز ويلي، چې د اړوندو ادارو تخنيکي ټيمونو د سيمې ستونزو ته د رسېدو لپاره هڅې پيل کړې دي. نوموړي زياتوي، چې ډېر ژر به په ياده سيمه کې له مرستندويو بنسټونو سره په ګډه د بيارغونې په برخه کې اقدامات ترسره کړي.

حاصلات گندم در کاپیسا به ۴۵ هزار ...

می‌کند. وی توزیع تخم‌های اصلاح‌شده، استفاده از کودهای کیمیایی یوریا و دای‌آمونیم فاسفیت، کاهش آفات و بیماری‌های نباتی و آموزش روش‌های فنی کشت برای نزدیک به ۵هزار دهقان را از مهمترین عوامل افزایش حاصلات گندم عنوان کرد. آمر امور زراعتی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری کاپیسا، خاطرنشان کرد که این ریاست در سال آینده نیز برای دهاقین این ولایت به خصوص برای هزار کشاورز، در دو ولسوالی کاپیسا تخم اصلاح‌شده و کودهای کیمیاوی توزیع خواهد کرد. وی از دهقانان خواست که با استفاده از تخم‌های اصلاح‌شده، رعایت تناوب زراعتی، وقفه دهی در کشت، استفاده به‌موقع از کودها و مبارزه مؤثر با آفات نباتی، در افزایش تولید و بهبود حاصلات گندم نقش فعال ایفا کنند.

توزیع ابزار کار برای ۲۹۲تن فارغان ...

سولرسازی، ترمیم موبایل و ترمیم موتورسایکل را سپری نموده بودند، به ارزش بیش از ۳.۵ میلیون افغانی ابزار کار به‌دست آوردند. ریاست کار و امور اجتماعی ولایت سرپل، با سپاسگزاری از دفتر صلح سازان افغان در زمینهٔ پشتیبانی از برنامه‌های اشتغال‌زایی برای اشخاص نیازمند و بازمانده از آموزش، از دیگر نهادهای کمک‌رسان نیز خواست تا در تطبیق برنامه‌های کارآفرینی و ارایهٔ خدمات به مردم، با این ریاست همکاری نمایند.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 05 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1098

د افغانستان او ایران د خصوصي سکټورونو ترمنځ درې هوکړه‌لیکونه لاسلیک شول

په کابل کې د ایران سفارت په کوربتوب جوړه شوې اقتصادي غونډه کې د افغانستان او ایران له ۲۰۰ څخه ډېرو سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو ګډون کړی و. په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا پر لارو چارو بحث او د نظرونو تبادله شوې ده. د ایران سفارت د معلوماتو له مخې، د افغانستان او ایران اقتصادي فعالانو د ودانیزو صنعتونو، درمل جوړونې، لابراتواري تجهیزاتو، خوراکي صنعتونو، بټرۍ جوړونې او همدارنګه د تخنیکي او انجنیري خدمتونو په برخو کې تخصصي لیدنې او خبرې اترې ترسره کړې. یاده غونډه د افغانستان او ایران د خصوصي سکټورونو ترمنځ د همکاریو د پیاوړتیا په موخه جوړه شوې وه او په پای کې د دواړو هېوادونو د شرکتونو ترمنځ درې هوکړه‌لیکونه هم لاسلیک شول.

سمنګان؛ د شباشک ډبرو سکرو استخراج ۵۰ سلنه زیات شوی

د شمال د ډبرو سکرو د امارتي شرکتونو مسئولین وایي، چې د سمنګانو ولایت د شباشک په کان کې د ډبرو سکرو استخراج د تېر کال په پرتله ۵۰ سلنه زیات شوی دی. د شمال د ډبرو سکرو د امارتي شرکت رئیس مولوي عبدالله حامد باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې اوسمهال هره ورځ د سمنګانو ولایت د شباشک له کان څخه ۳۰۰ ټنه د ډبرو سکاره استخراجېږي، په داسې حال کې چې تېر کال دا اندازه هره ورځ ۲۰۰ ټنه وه. ده د دې زیاتوالي لامل د استخراج د بهیر ښه‌والی، د تولیدي ظرفیت لوړول او په بېلابېلو عملي برخو کې تخنیکي هڅې وبللې. د نومړي په خبره، یاد استخراج شوي سکاره د کورني بازار د منظمې عرضې له لارې د هېواد د انرژۍ د اړتیاوو په پوره کولو او د اقتصادي ودې په پیاوړتیا کې مهم او اغېزناک رول لري.

هېره دې نه وي، چې د ډبرو سکاره د افغانستان له مهمو طبیعي زېرمو څخه شمېرل کېږي چې دا مهال پکې ګڼ شمېر کسان په کار بوخت دي.

د زړه پر ناروغیو د اخته ماشومانو لپاره نوی روغتون پرانیستل کېږي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې عمومي رئیس شیخ شهاب‌الدین دلاور ویلي، چې د دې ادارې مجهز د زړه روغتون به ډېر ژر په کابل کې پرانیستل شي.

نوموړي زیاته کړې: دغه مرکز کې به هر کال شاوخوا دوه زره هغه ماشومان چې د زړه په ناروغیو، د زړه په سوري (د زړه د دېوال په سوري) ... ۳مخ

... ۳مخ

د ننګرهار له روغتیایي مرکزونو سره د درملو نوې مرسته

د ننګرهار سیمه ییزو او د ولسوالیو روغتونونو ته د دریېمې ربعې لپاره د ۶۱۵ زره ډالرو په ارزښت درمل وسپارل شول. په یادو درملو کې ۶۴قلمه د سیمه ییزو او ۶۲قلمه د ولسوالیو د روغتیایي مرکزونو لپاره ځانګړي شوي، چې د ناروغانو په درملنه کې به ور څخه لازمه ګټه واخیستل شي، یونیسف اداري ډاډ ورکړ، چې پاتې درمل به هم ژر دغه ولایت ته ولېږدوي.

د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس، مولوي امین الله شریف یاد ولایت ته د درملو پر رسېدو خوښي څرګنده کړه او مسئولینو ته یې لارښوونه وکړه، چې درمل ژر تر ژره اړوندو مرکزونو ته واستوي.

حاصلات گندم در کاپیسا به ۴۵ هزار تن رسید

اداره زراعت، آبیاری و مالداری کاپیسا از برداشت بیش‌از ۴۵ هزار تن گندم طی سال روان در این ولایت خبرداده‌است. خواجه محمدشفیع صدیقی آمر امور زراعتی ریاست زراعت، آبیاری و مالداری کاپیسا، به خبرنگار آژانس باختر گفت: حاصلات گندم این ولایت در سال روان ۴۵ هزار و۶۹۱ تن برداشت شده‌است که در مقایسه به سال گذشته دو درصد افزایش یافته است. وی افزود که در سال جاری ۱۲ هزارو۳۵۳ هکتار زمین آبی و ۳۰۰ هکتار زمین للمی زیر کشت گندم قرار داشت و بیشترین کشتزارهای گندم در مرکز ولایت و ولسوالی‌های نجراب، حصه اول کوهستان، حصه دوم کوهستان، تگاب، الهسای و کوه بند موقعیت دارند. صدیقی افزود که از هر جریب زمین در حدود ۲۰۰ سیر گندم به دست آمده و مجموع تولیدات گندم، نزدیک به ۴۰ درصد نیاز مصرفی باشندگان کاپیسا را تأمین ... ۳مخ

د هوا له ګرمېدو سره کابل کې د برېښنا پرچاوۍ زیاتې شوې

کابل مېشتي ښاریان وايي، چې د هوا له تودېدو سره سم په کابل کې د برېښنا پرچاوۍ زیاتې شوې دي او دغه وضعیت د دوی ورځنی ژوند او کاروبار له جدي ستونزو سره مخ کړی دی. د کابل اوسېدونکي وايي چې د اړتیا له زیاتېدو سره هم‌مهاله د برېښنا کمښت پراخ شوی او د مهالوېش نشتوالي یې ستونزې نورې هم زیاتې کړې دي. دوی د کورني برېښنا تولید او د وارداتي برېښنا پر تکیې د کمولو غوښتنه کوي. بله خوا د افغانستان برېښنا شرکت ویلي چې د پرچاویو لامل د اوړي په موسم کې د مصرف زیاتوالی، د وارداتي برېښنا کمښت او تخنیکي ستونزې دي. چارواکي ډاډ ورکوي، چې د شبکې د ښه مدیریت او د عادلانه وېش لپاره هڅې روانې دي.

توزیع ابزار کار برای ۲۹۲تن فارغان آموزش‌های فنی و حرفه‌ای در سرپل

به اساس تلاش و هم‌آهنگی ریاست کار و امور اجتماعی ولایت سرپل؛ ۲۹۲ کارآموز در ولسوالی‌های کوهستانات و سوزمه قلعه که دورۀ آموزشی شش‌ماهه، در حرفه‌های خیاطی زنانه، گلیم‌بافی ... ۳مخ

غزه کې د ځاني او مالي تلفاتو زړه بوږنوونکی راپور

الجزیرې خبري شبکې د غزې د جګړې له زرمې ورځې سره هم‌مهاله راپور ورکړی، چې د غزې ترانګې له ۹۰ سلنې ډېره برخه ویجاړه شوې او صهیونیستي رژیم د دې سیمې پر ۸۰ سلنه خاوره ولکه ټینګه کړې ده. راپور زیاتوي، چې اسرائیلي رژیم د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې نېټې راهیسې ۷۳ زره او ۶۶ فلسطینیان په غزه کې شهیدان کړي دي. د راپورونو له مخې، د غزې ترانګې له ۸۰ سلنې ډېرو اوسېدونکو خپل کورونه له لاسه ورکړي او دغې جګړې له ۷۵ زرو ډېر یتیمان پر ځای پرېښي دي. بله خوا د اسرائیلي رژیم د یوې بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې، هغه ماشومان په نښه شوي چې د غزې ترانګې په مرکزي سیمه کې د اوبو د ترلاسه کولو لپاره ورغلي وو. په دغه برید کې یو فلسطیني ماشوم شهید او بل ټپي شوی دی. د راپورونو له مخې، ګڼ فلسطیني بې‌ځایه شوي، د خپلو کورونو د ویجاړېدو او د اوبو رسولو شبکو د نشتوالي له امله، د څښاک اوبو د ترلاسه کولو لپاره عامه ځایونو ته تللي دي.

حملات تازه روسیه بر اوکراین تلفات سنگین برجا گذاشت

در تازه‌ترین حمله‌های روسیه به بخش‌هایی از اوکراین ۱۰ تن کشته و ۶۰ تن دیگر زخمی شدند. خبرگزاری رویترز به نقل از مقام‌های اوکراینی گزارش داده که نیروهای روسیه با استفاده از بمب‌های هدایت‌شونده، پهپادها و توپ‌خانه مناطقی از شهرهای سومی، دنیپروپتروفسک و زاپوریژژیا را هدف قرار دادند. در شهر سومی، حمله بر مرکز شهر چهار کشته و ۲۷ زخمی برجا گذاشت. همچنان یک تن دیگر در حمله جداگانه در نزدیکی این شهر کشته شدند. در دنیپروپتروفسک نیز، سه تن جان باختند و ۱۲ تن زخمی شدند. در شهر زاپوریژژیا نیز دو تن کشته و ۲۱ نفر دیگر زخمی شدند. جنگ میان روسیه و اوکراین وارد پنجمین سال خود شده و تلاش‌های بین‌المللی برای برقراری آتش‌بس تا اکنون نتیجه ملموسی در پی نداشته است.

بلوچ پوځ: بلوچستان کې د پاکستاني رژیم له ۳۰ ډېر پوځیان وژل شوي

د بلوچ ازادي غوښتونکي پوځ ادعا کړې، چې د بلوچستان په ګوادر سیمه کې یې د پاکستاني ځواکونو د کوسټ ګارډز پر یو مهم کېمپ موټربم او وسله وال برید کړی، چې په پایله کې یې له ۳۰ څخه زیات پاکستاني پوځیان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي. د دغه پوځ ویاند جنید بلوچ خبرپاڼه کې ویلي، چې دغه برید د ګوادر د «جیواني» په «پانوان» سیمه کې د دوی د ځانګړې ډلې له خوا ترسره شوی دی. نوموړی زیاتوي: د «عطاء الله بلوچ عرف اجمل» په نامه د دوی یو تن وسلوال له بارودو ډک مازدا موټر د یاد کېمپ دننه چولی، چې له امله یې کېمپ په بشپړ ډول ویجاړ شوی دی. اعلامیه زیاتوي چې له چاودنې سمدستي وروسته د دوی د بلې ځانګړې ډلې (فتح سکواډ) پوځ پر کېمپ له څلورو خواوو برید کړی او ژوندي پاتې شوي پوځیان یې په نږدې نښته کې وژلي او د ډېرو پوځیانو د جسدونو د بند پاتې کېدو له امله ښایي د مړګ‌ژوبلې شمېر نور هم لوړ شي.